مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۸/۰۲

# زما ډايري او د يوې بې‌نامي افغاني ښځې روح ته يو ليک

نن مې ډايرۍ ښځي چوپه وه. نه ئې د کومې کيسې غوښتنه وکړه او نه ئې د کومې خاطرې پاڼه راته پرانيسته. غمجنه وه! ورو ئې راته وويل: «نن هغو افغانو ښځو ته د مبارکۍ ليک وليکه چې له دې نړيه تللې دي!» په حيرانتيا مې ورته وکتل او و مې ويل: «د مرګ مبارکي؟» هغې په ژورې ساه وويل:

«هو... زه هم ښځه يم. د افغانستان د ښځو هره سلګۍ زما د پاڼو تر منځ انګازې کوي. ما تل د ژوند د مبارکيو لپاره خپلې سپينې پاڼې دوی ته ساتلې وې، خو ګومان کوم زمانه بدله سوې ده، نو زه هم خپل فکر بدلوم.»
ورو مې نوې پاڼه راوړول د دې د غوښتنې په جواب کې مې دا ليک وليکی.

**د يوې بې‌نامي افغاني ښځې روح ته يو ليک**

۳۱ د جولای، ۲۰۲۶ م. کال

د مرګ دې مبارک سه!

ما هېڅکله دا تصور نه وو کړی چې يوه ورځ به د مبارکۍ دا کلمه هغه چا ته ليکم چې تازه ئې له دې نړۍ سترګې پټې کړې وي.

خلک يو بل ته د ودونو مبارکي ورکوي، د ماشوم د زېږېدو مبارکي وايي، د بريا، فراغت، نوي کور او نوي ژوند تبريکي ور لېږي. خو زه نن، تر غرونو غرونو بار لاندې زړه څخه، تا ته ستا د مرګ مبارکي وايم.

نه ځکه چې مرګ ښکلی دئ. ځکه هم نه چې ما، خدای مه کړه، ستا د مرګ هيله درلوده.

بلکه په دې خاطر چې زه نه پوهېږم، په دې وطن کې چې تا پرېښود، ستا لپاره نوره کومه هيله پاتې وه؟

ته په داسې خاوره کې وزېږېدې چې خپلو لونو ته ئې تر دې دمخه چې خپل ژوند پيل کړي، و خوبونو ته ئې د جهالت د زماني قبرونه تيار کړي ول.

کېدای سي غوښتل دې ښوونکې سې.

يا ډاکټره. شاعره، چې د دې وطن چوپې تيارې په شعرونو روښانه کړې.

او دا هم کېدای سي ستا يوازينۍ هيله دا وه چې د افغانستان تر اسمان لاندې، بې له دې چې له چا اجازه وغواړې، په ازاده ساه وکړځې.

عجيبه نه ده، هغه خوبونه چې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د هر انسان عادي حق ګڼل کېږي، ستا لپاره لوی جرم وو؟

د مرګ دې مبارک سه!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له داسي هېواده خلاصه سوې چي کتابونه پکښي شکمن او تورن سوي ول، ښوونځي چوپ ول، او د يوې نجلی قدمونه تر يوه مجرم ډېر ځارل کېدل. فارغه سوې د داسي وطنه چي هيلو دي د کور له دروازې تر وتلو مخکي مخ پټاوه.

د مرګ دي مبارک سه!

نور به هېڅوک ستا څخه دا پوښتنه نه کوي چي ولي ښځه پيدا سوي؟ دا به هېڅوک نه درته وايي چي ږغ دي ډېر لوړ دئ، شش! ستا ارمانونه ستا تر ټاکل سوي حده ډېر لوی ول، او شتون دي تر اړتيا زيات وو.

ته له داسي ټولني ووتې چي ماشومان پکښي تر دې وړاندي چي د انسانيت معنی زده کړي، د قبيلو نومونه زده کوي .دلته خلک د خپلو نيکونو دښمنی په سينه کي د قرآن تر تورو ډېر په امانت ساتي.

د مرګ دي مبارک سه!

نور به د هغه سباوون انتظار نه کوې چي هره ورځ د سبا وعده کوي، خو هېڅکله نن نه راځي.

ته مخکي له دې ولاړې چي د ښه او د ښځي هم افغانستان په انتظار دي وربښتان سپين سي. شايد همدا ستا تر ټولو لويه نېکمرغي وه. خو پام چي موږ و نه بخښښي! يو ساده حق مو هم در نه کړ. افغانستان به څوک رغوي؟ دا پوښتنه مو ستا څخه هېڅ و نه کړه ، بس خپله مو چلوی دا وطن.

زما مبارکي د خوښی نه، د اوښکو مبارکي ده.

هيله لرم په جنت کي به هېڅوک له تا دا ونه پوښتي چي د کوم وطن يې. يوازې به دي هرکلی وکړي.

هيله لرم هلته به داسي ښوونځي وي چي دروازې ئي هېڅکله نه تړل کېږي. داسي کتابتونونه چي پکښي هېڅ کتاب ممنوع نه وي. داسي باغونه چي ښځي پکښي بې له بېري په کټ کټ خاندي. داسي لنډئ چي هېڅوک ئي غلي نه کړي.او تر هر څه مهمه، داسي خوبونه چي د چا اجازې ته اړتيا ونه لري.

او که له هغه ارام ځايه دي کله هم د افغانستان غرونو ته هوا وسوه، و خفګان ته اړتيا نسته! د نجونو په پيکي که د پسرلي د بادامو ګلان ووينه. د مور د لاس د تناره تازه ډوډی خوشبو حس کړه.

هغو ماشومانو ته ځير سه چي کوڅې ئي د ناوکيو د ودونو په شور ډکي کړي دي. هغه سپين سري چي د توت تر ونو لاندې چای څښي. او هغو ميندو ته موسکی سه چي دعاوي ئي د دې وطن وروستی پناه ده. کاش چي نور هر څه هېر کړې.او که دا هم هېرول ابدي ژوند درته اسانه کوي، دا هم هېر کړه.

زما نا اشنا خورې! د مرګ دي مبارک سه! خدای ته ووايه چي د ښځو نوري ارواح دلته مه را لېږه تر څو د دې وطن خلکو دا نه وي زده کړي چي ملت د خپلو لونو په پټولو نه ږغورل کېږي.

ګراني خوري د مرګ دي مبارک سه! داسي مبارکي چي په رپېدلي لاس ليکل سوې ده، او د داسي زړه له ژورو راوتلي چي لا هم، د هيلو د مرګ منلو ته نه دئ حاضر.

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ